2 017550 139621

ورځپاڼه
# مسیر
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۹ د تلې لومړی | د ۲۰۲۰ د سپټمبر ۲۲مه | ۵۹۸مه گڼه

# تاريخ او د دويم مرستيال غير مسوولانه څرگندونې؛

## شنونکي: له دې څرگندونو د نفاق بوی راځي، سرور دانش دې خپل معلومات زيات کړي




۳

اوسني واکمن له شاه شجاع سره هم د پرتلې وړ نه دي

۲ مخ

له طالبانو سره د ایران د پېچلو اړیکو نوې بڼه

۲ مخ


له بې وزلۍ څخه د وتلو لار

۳ مخ

## ځيره

۴ مخ

### رولان بارت



رولان بارت سره له دې چې يو پياوړی ليکوال و، ښه نقاد هم و. هغه د فرانسې د هغه مهال پر روان ادبي بهير باندې نقدونه کړي او د نښې پېژندنې وتلی نوم دی.

## رستمي: روان کال په هېواد کې د غنمو حاصلات ۵.۱ میلیون متریک ټنو ته رسېدلي دي



د کرنې او مالدارۍ وزارت او د ملي احصايې او معلوماتو ادارې د یوې گډې سروې پایله ښيي چې روان کال په هېواد کې د غنمو حاصلات ۵.۱ میلیون متریک ټنو ته رسېدلي دي. د کرنې وزارت وياند اکبر رستمي وايي، د دغو حاصلاتو ۴.۰۳ میلیون متریک ټنه يې له اوبيزو کروندو او ۱.۱۵ میلیون متریک ټنه يې له للمي کروندو څخه اخيستل شوي دي. د نوموړي په خبره، دغه سروې په ۳۰ ولایتونو، ۱۷۷ ولسواليو او ۸۸۵ کليو کې شوې ده.

رستمي زياتوي چې د کرنې او مالدارۍ وازرت او د احصايې او معلوماتو ملي ادارې د گډې سروې پر بنسټ تېر کال د غنمو د توليد کچه ۴.۹ میلیون ټنه وه چې په سږنيو حاصلاتو کې نږدې ۲۰۰ زره متریک ټنه زياتوالی راغلی دی.

د تېر کال په پرتله په روان کال کې د غنمو د ټوليز توليد د کچې د زياتوالي لامل د غنمو د کروندو زياتېدل او د للمي کروندو د توليداتو زياتوالی دی.

## د قطر مذاکراتي ټیمونه: د سولې مذاکراتي کاري طرزالعمل به ډېر ژر نهايي شي

افغان دولت او طالبان وايي چې د سولې مذاکراتو کاري طرزالعمل به ډېر ژر نهايي شي. د طالبانو د قطر دفتر وياند ډاکتر نعيم او د افغان دولت د مذاکراتي ټيم غړي او وياند نادر نادري په یوه گډه لنډه اعلاميه کې ويلي چې د دواړو لورو په وروستۍ ناسته کې چې څو ساعته يې دوام وکړ، د سولې مذاکراتو پر کاري طرزالعمل بحثونه شوي او د اختلافي مواردو د حل په برخه کې پرمختگ شوی دی.

د دواړو خواوو وياندويانو ويلي چې د افغانستان د سولې مذاکراتو کاري طرزالعمل به ډېر ژر نهايي شي. دا په داسې حال کې ده چې له دې مخکې ويل شوي وو چې د داخلي غونډو د طرزالعمل پر دوو مادو د دولت او طالبانو د پلاوو ترمنځ اختلاف دی او دغه اختلاف د اجنډا او د سولې پر اصلي موضوعاتو د بحث مخه نيولې ده.

خو وروسته بيا ځينو سرچينو مسير ورځپاڼې ته وويل چې له يادو دوو اختلافي مادو څخه يوه حل شوې او دواړه لوري يې په اړه هوکړې ته رسېدلي، خو په دې اړه يې ډېر جزيات ورنه کړل.

د یادونې ده چې د افغان دولت او طالبانو ترمنځ د بين الافغاني مذاکرات د پرانيستې رسمي مراسم تېره اونۍ ترسره شول، خو تر اوسه مخامخ خبرې نه دي پيل شوې.

## یوناما: ښکېلې خواوې دې ژر تر ژره اوربند او د دوحې خبرو لپاره مناسبه فضا رامنځته کړي



۵ مخ

## ولسی جرگه: در چند سال گذشته بیش از صد فرمان رئیس‌جمهور غیرقانونی بوده‌اند

کمیسیون تقنین ولسی جرگه می گوید که رئیس‌جمهور غنی در چند سال گذشته، بیش از صد فرمانی صادر کرده‌است که خلاف قانون بوده‌اند.

رئیس این کمیسیون، می‌گوید که بربنیاد این فرمان‌های رئیس‌جمهور شماری از نهادهای تازه‌یی مانند وزارت‌های دولت در امور صلح، پارلمانی و حوادث ایجاد شده‌اند و نیز شماری از بخش‌ها هم‌چون ادارۀ ثبت احوال نفوس و ادارۀ تنظیم امور زندان‌ها از وزارت خانه‌ها جدا شده‌اند که این کار از صلاحیت‌های شورای ملی است.

بربنیاد اطلاعات گردآوری شده در کمیسیون تقنین ولسی جرگه، ریاست‌جمهوری در سال‌های ۱۳۹۴، ۱۳۹۵، ۱۹۶ و ۱۳۹۷ هشتاد و هشت فرمان صادر کرده‌است. فرمان‌هایی که در دورۀ هفدهم شورای ملی از سوی ریاست‌جمهوری صادر شده‌اند، شامل این اطلاعات نیستند.


قاضی محمد نذیر حنفی، رئیس تقنین ولسی جرگه گفت: «این را استبداد نظر می‌گویند. و رئیس‌جمهور! به شما یک گپ می‌زنیم؛ زنده باد استبداد!»

گل رحمان قاضی، رئیس پیشین کمیسیون نظارت بر قانون اساسی نیز بیان داشت: «بربنیاد قانون اساسی، فرمان‌های تقنینی در حضور مجلس نماینده‌گان هیچ مبنای قانونی ندارد.»

وکلا هشدار می‌دهند که هرگاه نهادهایی‌که بربنیاد فرمان به‌گفتۀ آنان غیرقانونی رئیس‌جمهور ایجاد شده‌اند، قانونمند نشوند، بودجۀ آن‌ها را تأیید نخواهند کرد.

روح‌الله سخی‌زاد، حقوق دان در این باره اظهار داشت: «وقتی‌که بودجه تأیید نشود بدون شک که یک نهاد دچار مشکلات بسیار کلان می‌تواند شود و مشروعیت و اجرایی کارش زیرسوال می‌رود.» اما، ریاست‌جمهوری با رد این موضوع می‌گوید که فرمان‌های رئیس‌جمهور بربنیاد قانون اساسی صادر شده‌اند.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دریځ

### اوسني واکمن له شاه شجاع سره هم د پرتلې وړ نه دي

د ولسمشر دویم مرستیال سرور دانش په بامیانو کې یوې غونډې ته په خبرو کې د طالبانو امارت د احمدشاه بابا له وخته د سدوزیو او محمدزیو د واکمنۍ تر پایه پورې له حکومتونو سره تشبیه کړې دی. نوموړي د افغانستان ۲۳۰ کاله واکمنۍ استبدادي، ډیکتاتوري او مورثي ګڼلې او ویلي یې دي چې واک به د قبیلې د یوې ډلې په لاس کې و. نوموړي ویلي چې امارت هم همداسې یو نظام دی چې د خلکو حقونو ته هېڅ پام نه کوي. د سرور دانش له دغو خبرو وروسته په ټولنیزو شبکو کې خلکو توند غبرګون ښودلی دی او سرور دانش یې د افغانستان تاریخ ته په سپکاوي تورن کړی دی. ډېر کسان له سرور دانش څخه غواړي چې له خلکو بښنه وغواړي او له حکومتي چارواکو هم غواړي چې دا ډول ناوړه څرګندونې ونه کړي.

د افغانستان په تاریخ کې ستونزې شته او تاریخ لیکونکي او نور عالمان په دې برخه کې د نقد او نیوکو حق لري، خو دا هر څه باید له یوې علمي زاویې او د افغانستان د راتلونکې د سمون لپاره وي. خو سرور دانش چې کومې خبرې کړې دي، نه یوازې دا چې علمي اساس نه لري؛ بلکې پر تاریخ د هغه د ناپوهۍ څرګندونه هم کوي. د احمدشاه بابا په شان کې د یوه مفسد دولت د یوه مفسد او متعصب چارواکي دا ډول څرګندونې یوازې خپله د ده د جهالت څرګندونه کوي. د دې تر څنګ، په همدغه ۲۳۰ کلنه دوره کې چې نوموړی یې ډیکتاتوري او استبداد یادوي، داسې واکمنۍ ډېرې دي چې زموږ تاریخ یې زرین کړی دی. په همدې تاریخ کې د امیر شیر علي خان، وزیر اکبر خان او امان الله خان په شان واکمنۍ دي چې هر افغان پرې ویاړي. آن د دې دورې شاه شجاع هم له هره اړخه تر سرور دانش او ملګرو یې غوره دی، ځکه چې هغه په غلامۍ کې هم ځینې ارزښتونه ساتلي وو چې سرور دانش او ملګرو یې هغه ارزښتونه هم تر پښو لاندې کړي دي.

که سرور دانش په دغه ډول څرګندونو سره غواړي چې په خپل قوم کې ځان ته محبوبیت پیدا کړي، بیا هم تېروتنه کوي، ځکه زموږ هزاره ورونه د سرور دانش په شان متعصب، مزدور او د افغانستان له واقعیتونو او تاریخ څخه ناخبره نه دي. له همدې امله په دغه ډول څرګندونو به نوموړی لا زیات د خلکو له سترګو وغورځي او خلک به پرې هېڅ ډول باور ونه کړي.

حکومتونه د خلکو د یووالي د ساتلو لپاره وي، خو اوسنی حکومت او چارواکي یې پر خلکو زهر شیندي. دوی د دې پر ځای چې خپلو اساسي دندو ته پام وکړي، په بې مانا او بې ارزښته مسایلو بوخت دي او آن خپل وخت او امکانات د خپل ولس پر ضد کاروي. له همدې امله دا ډول څرګندونې کوي. سرور دانش او په حکومت کې واکمن کسان باید پوه شي چې دا ډول له جهالته ډکې خبرې به نه یوازې د افغانستان تاریخ بدل نه کړي، بلکې دا لړزانده حکومت به لا هم کمزوری کړي. د امارت او جمهوریت خبره یوه علمي او اکاډمیک بحث ته اړتیا لري، خو د سرور دانش د ملګرو واکمني نه جمهوریت دی او نه هم د خلکو واکمني؛ بلکې دا د ښلو غلو، مفسدو، متعصبو او پردي پالو واکمني ده چې پر خلکو ناامني، لوږه، نفاق او نورې بدبختۍ ویشي. له همدې امله دوی ولس رټلي، نه یې په ټاکنو کې برخه اخلي او نه یې هم په کومه بله چاره کې ملاتړ کوي. واقعیت دا دی چې د افغانستان په تاریخ کې اوسنی حکومت تر ټولو ناوړه، مفسد او ناکاره دی چې اصلي لامل یې هم د سرور دانش په شان واکمن دي.

# له طالبانو سره د ایران د پېچلو اړیکو نوې بڼه

لیکنه: بارنټ روبین /ژباړه: زمریالی اباسین

**درېیمه برخه:**

په دې هکله وړاندوینې چې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو یا پاتې کېدلو په صورت کې ایران له څه ډول ګواښونو سره مخ کېدلی شي، ایرانیان دې پایلې ته ورسېدل چې له طالبانو سره اړیکې ټینګې کړي. تر دې مخکې ایران طالبانو ته د یو داسې ګواښ په توګه کتل، چې ګویا د سعودي عربستان لخوا د ملاتړ کېدونکې شبکې یوه برخه ده، چې تر شا یې امریکا ولاړ ده او موخه یې ایران دی. دې نظریې له طالبانو سره د سیاسي تعامل ایجادولو پر وړاندې مخالفتونه راوپارول او نه یې منله چې طالبان او القاعده دې په اساسي ډول له یو بل سره توپیر ولري. کله چې ایران په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د اوږدمهاله حضور له امله له رامنځ ته کېدونکو ګواښونو اندېښمن شو، په تدریج سره یې دوه ګوني سیاست ته مخه کړه.

طالبانو په ۲۰۰۷ م کال کې په دې موخه ډیپلوماټیکې هڅې پیل کړې وې، چې امریکا او د افغانستان ګاونډیو هېوادونو ته قناعت ورکړي، چې د دوی موخې یوازې په افغانستان پورې محدودې او منحصرې دي. دوی غوښتل څو امریکا ته قناعت ورکړي چې کولی شي القاعدې ته پناه ورنه کړي، خو په دې شرط چې امریکا له افغانستانه خپل ځواکونه وباسي. ایران او روسیې ته یې هم چې د طالبانو پر وړاندې یې له خصومت ډک لیدلوری درلود، په ټینګار سره ویلي وو چې په افغانستان کې د امریکا له پوځي حضور سره د مخالفت ښودلو په هکله ګډې ګټې لري او ډاډ یې ورکاوه چې د افغانستان د هېڅ ګاونډي پر وړاندې هیڅ ډول شومې موخې نه لري. په ورته وخت کې طالبانو د سعودي عربستان له شاهي واکمنې کورنۍ سره هم خبرې کولې، چې په همدې لړ کې د ۲۰۰۸ م کال په سپټمبر میاشت کې د سعودي پاچا عبدالله د افغانانو تر منځ د روغې جوړې لپاره د یو روژه ماتي کوربه هم و. د دې افطاریه ناستې چې ځینو دولت اړوندو لوړپوړو افغان چارواکو پکې برخه درلوده، یو ترتیبوونکي راته وویل چې د ناستې پر مهال د ایران د وخت د بهرنیو چارو وزیر منوچهر متکي له خپل افغان سیال ډاکټر عبدالله وپوښتل، چې ولې سعودي چارواکي هڅه کوي څو طالبان بېرته واک ته راولي. له هغه ځایه چې ګومان کېږي طالبان له سعودي عربستان سره نږدې اړیکې لري، ایران د اړیکو په پاللو کې محدودیتونه درلودل.

په ۲۰۰۹ م کال کې که څه هم د سعودي عربستان- طالبانو اړیکې پرې شوې؛ خو هغه مهال چې د سعودي د استخباراتو رییس شهزاده مقرین بن عبدالعزیز په جده کې د طالبانو له سیاسي استازي طیب آغا سره وکتل، دواړو خواوو د امریکا او افغانستان له حکومتونو سره د منځګړي په توګه د سعودي له مخکې شرطونو د طالبانو د سرغړونې له امله توندې خبرې وکړې. شاه عبدالله ټینګار کاوه تر دې مخکې چې سلطنت یې لاس پکار شي، طالبان دې له القاعده سره اړیکې پرې کړي. طالبانو ټینګار وکړ چې دغه ډول کړنه یوازې د پروسې په پای کې د کېدو وړ ده، نه مخکې.

شهزاده مقرین طیب آغا له سعودي عربستان څخه وشاړه. له دې سمدستي وروسته، مقرین پلازمېنې ریاض کې د پاکستان استخباراتي اداري (ای اس ای) له رییس ډګر جنرال احمدشجاع سره ولیدل چې په دې لیدنه کې جنرال شجاع له پاکستان سره د خپلو سعودي ورونو د نه مشورې له امله نیوکې وکړې. له دې وروسته دوه کارونه وشول: سعودي عربستان د افغانستان د سولې پروسه کې له ښکېلتیا ووت او مقرین او همکارانو یې خپلو امریکایي سیالانو ته دا ویل پیل کړل، چې طیب آغا یو ایرانی اجنټ دی او د سلیماني لخوا هره میاشت ۱۰۰۰۰ زره ډالر تر لاسه کوي؛ هغه ادعا چې وروسته یې ثابته نکړای شوه.

له دې وروسته طالبانو له جرمني او قطر سره د منځګړو په توګه کار پیل کړ او د ۲۰۱۰ م کال په نومبر کې یې د امریکا له متحده ایالتونو سره مخامخ خبرې پیل کړې. طیب آغا خپلو امریکایي ارتباطیانو ته وویل چې ایران د افغانستان تر ټولو خطرناک دښمن دی. ایران هڅه وکړه چې د اړیکو په تامینولو سره د طالبانو په اړه د امریکا او افغان حکومت شکونه راوپاروي. د یوې کوچنۍ بېلګې په توګه، د ۲۰۱۱ م کال په جریان کې هغه مهال چې زه د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا د متحده ایالتونو د ځانګړي استازي سلاکار وم، یو لوړپوړي افغان چارواکي راته وویل چې یو ایراني چارواکي ترکمنستان کې د لیدنې پر مهال ورته ویلي وو، چې ما د پاکستان په کوېټه کې له ملا عمر سره ولیدل. زه ډاډه نه یم چې د دې خبرې د ردولو په اړه دې هغه زما پر رد ځواب بشپړ باور کړی وي.

د امریکا له متحده ایالتونو او نورو سره اړیکې تامینول د طالبانو د ستراتیژۍ یوه برخه وه، څو له سیاسي او نظامي لارو واک ته د رسېدو لپاره د یوې ترهګریزې ډلې پر ځای د یو سیاسي تحریک په توګه نړیوال رسمیت تر لاسه کړي. د یو مرتبت کورني سیاست په توګه، طالبانو دغه راز هڅه وکړه چې له خپلو سني مذهبه سپکتاړین کړیو سره ولوبیږي. د واکمنۍ پر مهال طالبانو په افغانستان کې د شیعه قومي لړکیو د هزاره ګانو پر وړاندې څو ځلې له ناورین ډکې کړنې تر سره کړې وې. له همدې امله ده چې افغانستان کې شیعه ګان لا هم طالبانو ته د داعش په سترګه ګوري او د دغو ډلو تر منځ توپیر ته قایل نه دي. که څه هم چې طالبان د حنفي فقهې د اصولو پر سر سازش نه کوي، خو له ځینو هزاره کړیو سره یې ښې اړیکې ټینګې کړې او په خپلو عامه بیانیو او خبرپاڼو کې لیکي چې هزاره ګان خپل مسلمان ورونه او افغانان بولي. دا چاره افغانستان کې ډېر شیعه ګان نه ترغیبوي، خو ایران ته اسانه ده چې له طالبانو سره د اړیکو په تامینولو سره د امریکا د حضور په اړه ګډ مخالفت څرګند کړي.

په پراویز ډول، استخباراتي رپوټونه کاږي چې ایران طالبانو ته یوازې توغندي نه؛ بلکې د الوتکو ضد وسلو ورکول هم پیل کړي دي. تازه د ۲۰۲۰ م کال د جنوري په لومړیو کې ما ته د پخواني شوروي اتحاد لخوا جوړ شوي هغه توغندي په یوه ویډیو کې راوښودل شول، چې د ځمکې له لارې په هوا کې هدف په نښه کوي او ایران په هلمند کې طالبانو ته په واک کې ورکړي دي. که څه هم تر اوسه پورې د طالبانو لخوا د دغه ډول وسلو د کارونې په اړه شواهد په لاس کې نشته.

د اوباما د اداري پر مهال، کله چې امریکا هم له طالبانو او هم له ایران سره مذاکرات پیل کړل، داسې ښکارېده چې له طالبانو سره ځکه معامله کول غواړي، چې د افغانستان د سیاسي صحنې راتلونکي ابزار ورته ښکارېده. د دې مودې په اوږدو کې ایران له افغان حکومت سره تودې اړیکې پاللې، که څه هم د اوږدمهاله ګټو په محور کې یې د اوبو، کډوالو او مخدره توکو جنجالونه لا په مخکې درلودل. ایران دغه راز د افغانستان د هغو مهمو مخالفو سیاسي رهبرانو ملاتړ ته هم دوام ورکړ، چې د اساسي قانون له مخې د رامنځ ته شوي نظام ملاتړي وو. د رهبرۍ د ترکیب هلې ځلې او د پاکستان لخوا فشارونو د طالبانو مشرتابه له ۲۰۱۴ م کال وروسته ایران ته لا نږدې کړل. په ۲۰۰۱ م کال کې د امریکا د پوځي یرغل په پایله کې، د طالبانو مرستیال ملا عبدالغني برادر په داسې حال کې چې د طالبانو مشر ملا له انظارو ورک شوی و، کراچۍ او بلوچستان کې د طالبانو د رهبرۍ بیا جوړونې مسوولیت پر غاړه واخیست. د برادر د رهبریت په اړه کوم مخالفت نه و. د ۲۰۱۰ م کال په جنوري کې د امریکا استخباراتي اداري سي ای اې د ګډو عملیاتو په ترڅ کې د ملا برادر له نیول کېدو وروسته، د طالبانو په مشرتابه کې مخالفتونه راټوکول. اختر محمد منصور د لومړي مرستیال په توګه راڅرګند شو، په داسې حال کې چې عبدالقیوم ذاکر دویم مرستیال وټاکل شو. منصور ادعا کوله چې د برادر په ځېر واکونه ولري، په مستقیم ډول ملا عمر ته رپوټ ورکړي او د طالبانو د ټولو ارګانونو څارنه وکړي، په داسې حال کې چې غوښتل یې ذاکر یوازې د پوځي چارو په اړه رپوټ ورکړي. ذاکر ادعا کوله چې دواړه په رتبه کې له یو بل سره برابر دي او دواړه باید په مستقیم ډول ملا عمر ته رپوټ ورکړي، په داسې حال کې چې ذاکر به د پوځي چارو او منصور به د سیاسي او ملکي چارو مسوولیت پر غاړه ولري. منصور او ذاکر دواړه د هلمند ولایت وو چې یو یې اسحاقزی او بل یې د علیزیو د پښتنو له ټبرونو و. دغه دواړه قومونه په ژوره توګه د اپینو په تولید، تصفیه کولو او قاچاق کې ښکېل وو. له ایران سره پر پوله زرنج ښار چې یوازې د ځمکې له لارې ۱۳۶ کیلومتره واټن له ایران سره لري، چېرې چې د هلمند سیند په اوږدو کې یوازینی پل چې هلمند یې له ایران سره نښلاوه او له همدې لارې هیرویین له هلمند څخه ایران ته لېږدول کېدل. په دلارام کې (چېرې چې زه د ۱۹۹۸م کال په جون کې هغه مهال چې د ملګرو ملتونو د یو سلاکار په توګه مې له کندهار څخه فراه ته سفر درلود او په یو سماوات کې مو د چای لپاره دمه اخیستې وه) زرنج ته ورغلی سړک او د ایران د سوېل- شمال پولې ځینې برخې د کندهار- هرات له څنډو د افغانستان حلقوي سړک له یو بل سره نښلي. دغه مسیر پر نیمروز تېرېږي چې افغانستان د بلوڅو د اکثریت مېشتو یوازینی استوګن ځای دی او د پاکستان بلوچستان ایالت او د ایران د سیستان- بلوچستان ولایت سره ګډه پوله لري. بلوڅان چې په یوه داسې سیمه کې مېشت دي، په اسانۍ سره له پولو اوړي او په قانوني او غیر قانوني سوداګریزو فعالیتونو بوخت دي.

په پاکستان او ایران کې همټبرو بلوڅو په خپله محدوده کې د خپلواکۍ او خودمختارۍ هلې ځلې کولې. په پاکستان کې بلوڅ ملي غورځنګ سیکولر نشنلېزم ته مخه کړې او په تېرو څو لسیزو کې یې د هند، پخواني شوروي اتحاد، عراق او افغانستان ملاتړ تر لاسه کړی دی. ایراني سازمانونو لکه د جندالله ډلې د سني حتی سلفي اسلامیزم په پلې کولو سره د سعودي عربستان له هغو مرستو برخمن شوي، چې د پاکستان تر حاکمیت لاندې سیمو کې کېږي. دواړو پاکستان او ایران (د یو لړ واقعي مسایلو پر بنسټ) باور درلود چې د دوی بلوڅ تحریک د دوی له ابدي دښمنانو (هند د پاکستان او ایران د سعودي عربستان او امریکا) مرستې او ملاتړ تر لاسه کوي. اسراییلي اجنټانو د امریکایي اجنټانو په جامه جندالله ته په ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ م کلونو کې پټې مرستې رسولې، څو امریکایان وپوهېدل او ترې ویې غوښتل چې له دې کار لاس واخلي.

پر بلوڅ بېلتون غوښتونکو او سلفي ترهګرۍ سربېره، مخدره مواد هغه ګواښ دی چې ایران یې له سرخوږیو سره مخ کړ او اندېښنې یې ور زیاتې کړې. د ۲۰۰۹ م کال په لومړیو کې له هغې مخکې چې ما د اوباما په اداره کې کار پیل کړ، یو ایراني چارواکي راته وویل چې د ایران د بهرنیو چارو وزارت د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې ریاست د جندالله ډلې په اړه نه یوازې د مخدره توکو د سوداګرۍ؛ بلکې له پاکستان، سعودي عربستان او امریکا سره د دې ډلې د پراخېدونکو اړیکو له کبله له سختو سرخوږیو سره مخ دی. ورته پیغام د نورو چینلونو له لارې هم تر لاسه شو، چې د جندالله لخوا د ترهګریزو کړنو ترڅنګ چې ملکیان یې وژل، د اوباما اداره اړ کړه څو جندالله د ۲۰۱۰ م کال په نومبر کې د یو بهرني ترهګریز سازمان په توګه وپېژني، که څه هم له اوږدو داخلي مخالفتونو او ځنډ او ځنډ سره سره دا چاره هم خالي نه وه، بیا هم دغه چاره کابو په هېڅ برابره او د باور جوړونې په توګه راڅرګنده شوه.

د ۲۰۱۴ م کال په پیلېدو سره، د داعش او ورسره افغانستان کې د داعش خراسان ولایت رامنځ ته کېدل هغه څه وو، چې ایران ته یې د دې هېواد په ختیځو او لوېدیځو پولو کې نوي سرخوږي راوزېږول. داعش د افغانستان په شمال- لوېدیځ کې له ترکمنستان سره پر ګډه پوله (چې روسیې یو مستقیم ګواښ وباله) او هغه لاره چې تاجکستان، ازبکستان او مزارشریف او بیا مشهد چې د ایران د رضوي خراسان ولایت مرکز دی، یوه سیمه تر خپل کنټرول لاندې راوسته. د افغانستان د شاهي نظام لخوا د هلمند اسحاقزي او علیزي په جوزجان ولایت کې د ملاتړ لپاره له ازبکانو سره د تعامل په موخه مېشت کړي وو او دغو ټبرونو خپلې کورنۍ او خپلوان چې هلمندیان وو، له ځان سره بوتلل. په ۲۰۰۱ م کال کې اسحاقزي او علیزي د امریکا تر ملاتړ او د عبدالرشید دوستم په مشرۍ او قومانده ازبک ځواکونو له جوزجان څخه پسې واخیستل. وروسته یې هلته د کوکنارو د کرکیلې او د اپینو د تولید مهارتونه زده کړل او له هغو ځینې یې کرار کرار بېرته جوزجان ته ستانه شول.

**دوام لري...**



# له بې وزلۍ څخه د وتلو لار

لیکنه: زرینه
د چین نړیوالې راډیو د پښتو څانګې خبریاله

دا د انسان طبیعي خاصیت دی چې بې وزلي نه خوښوي، خو پوښتنه دا ده چې له دې بلا څخه څنګه ځان وژغورلی شي؟ د دې پوښتنې لپاره مختلفو پوهانو طرحې وړاندې کړې او خپل ځوابونه یې بیان کړي چې هره طرحه په خپل ځای د قدر وړ ده؛ خو کېدای شي دغه طرحې یوازې د اقتصادپوهانو لپاره د درک وړ وي، نو ځکه لازمه ګڼم چې خلکو ته باید له بې وزلۍ څخه د خلاصون په پار ساده بېلګې وړاندې شي، څو دوی په اسانۍ سره وکولای شي چې له دې بېلګو څخه د بې وزلۍ په برخه کې د خپلو ستونزو د حل لپاره ګټه واخلي. په همدې هیله مې د «شاجو» په نوم د چین د یوه کلي یادونه کړې، چې خلک یې تر شل کاله په کم وخت کې له بې وزلۍ څخه وتلي. دا چې دې کلیوالو د بې وزلۍ له منځه وړلو لپاره څه کړي؟ په دې لیکنه کې یې لوستلای شی.

شاجو سیمه

«شاجو» یو چیني نوم دی چې ځانګړې مانا نه لري، د چین په تقریباً مرکزي سیمه، هونان ولایت کې موقعیت لري، تر شاوخوا لس کاله مخکې پورې یې خلک ډېر بې وزله وو، شل کاله مخکې یې هېڅ پوخ سړک نه درلود، خو اوس له بې وزلۍ څخه وتلي او په دې برخه کې یې د چین د نمونه کلي لقب ګټلی.

له بې وزلۍ څخه د یاد کلي د وتلو راز زراعت او سیاحت ته په پاملرنه کې دی. اقتصادپوهان په دې اند دي چې زراعت او سیاحت د یوه هېواد او یا یوې سیمې د اقتصاد د ملا تېر جوړوي. هر هېواد او هره سیمه که غواړي چې اقتصاد یې قوي شي، نو باید زراعت او سیاحت ته پاملرنه وکړي.

د چین په تاریخي کیسو کې راغلي چې د «شاجو» سیمې خلک شاوخوا سل کاله وړاندې دومره بې وزله وو، چې آن د خوب لپاره یې بړستنې هم نه درلودې. وایي، یوه ورځ درې عسکر چېرته په سفر روان وو او په یاده سیمه کې یې شپه شوې وه او دا چې په هغه وخت کې هوټلونه نه وو، نو مسافرو به د خلکو په کورونو کې شپه تېروله. په دې کیسه کې راغلي، یادو عسکرو چې په کوم کور کې شپه تېره کړه، د کوربه اقتصادي وضعیت دومره خراب و چې د مېلمنو لپاره یې بړستن هم نه درلوده، نو یادو عسکرو خپله سفري بستره په منځ پرې کړه او نیمایي یې کوربه ته ورکړه.

د نیمایي بړستنې کیسه اوس په چین کې ډېره مشهوره ده. دومره مشهوره ده چې د چین دولت ریيس له بې وزلۍ څخه د وتلو په برخه کې د یاد کلي د نمونې لقب یادونې پر مهال هم د نیمایي بړستنې تاریخي افسانې یادونه کړې.

تاسو پوهېږئ چې چین ډېره لویه جغرافیه او شاوخوا ۱۴۰۰میلیونه نفوس لري، نو په دومره لوی هېواد کې چې یو وړوکی کلی د نمونې لقب تر لاسه کوي، دا د دې ښودنه کوي چې کلیوالو یې سخت زحمت ایستلی او بالاخره خپل هدف ته رسېدلي.

اوس د یاد کلي خلکو په خپله سیمه کې ښکلي پارکونه، شنې سیمې او تاریخي ځایونه جوړ کړي چې د لیدو لپاره یې هر کال ډېر خلک ورځي او له دې امله یې استوګن ډېر عاید تر لاسه کوي.

په زراعت برخه کې اوس ډېر مشهور کیوي، سپین چای او نور محصولات لري چې هر یو د دوی په اقتصاد کې مهم رول لري.

د معلوماتو له مخې، اوس په یاد کلي کې د کیوي شاوخوا ۱٦۰هکټاره باغونه زرغون دي. د یادونې وړ ده چې د چین دولت په خپل هېواد کې د بې وزلۍ د بشپړ ختمولو لپاره سږ کال یو ټاکلی هدف لري او وړاندوینه یې کړې چې د یاد کال تر پایه به خپل دغه هدف ته ځان ورسوي؛ خو دا چې په دې برخه کې به بریالی شي او که نه؟ وخت به دا هرڅه معلوم کړي.

# تاریخ او د دویم مرستیال غیر مسوولانه څرګندوني؛

## شنونکي: له دې څرګندونو د نفاق بوی راځي، سرور دانش دې خپل معلومات زیات کړي




د ولسمشر دویم مرستیال د افغانستان د تاریخ په اړه بې بنسټه څرګندونې کړې دي چې په ټولنیزو رسنیو کې یې سخت غبرګونونه پارولي دي. د ولسمشر دویم مرستیال سرور دانش څو ورځې وړاندې له ولسمشر غني سره یوځای بامیانو ولایت ته تللی و. هغه په افغانستان کې د تېرو دوو نیمو پېړیو افغان واکمنو ته له سپکاوي ډکې څرګندونې کړې دي او دوی یې دیکتاتوران او استبدادیان بللي دي. ده د طالبانو امارت هم د یادو کسانو له حکومتونو سره ورته بللی دی. دې مسئلې توند غبرګونونه پارولي دي او له سرور دانش یې غوښتي چې د خپلو څرګندونو له امله ښښنه وغواړي.

د ولسمشر دویم مرستیال چې ډېر کله وړاندې د تعصبي چلند تورونه پورې کېږي، تازه یې داسې څرګندونه کړې چې په هېواد کې یې د ټولنیزو رسنیو د کاروونکو توند غبرګونونه له ځان سره لرلي دي. سرور دانش له ولسمشر سره د شنبې په ورځ بامیانو ولایت ته تللی و او په دغه ولایت کې یې په خپله وینا کې وویل چې په تېرو دوو نیمو پېړیو کې په افغانستان کې دوو کورنیو پر پاتې ولس له استبداد او دیکتاتورۍ ډک نظام چلولی دی او یوه واړه اقلیت پر ستر اکثریت د زور حکومت کړی دی. نوموړي په دې وینا کې د سدوزیو او محمدزیو د کورنیو نوموونه یاد کړي دي. هغه په خپله وینا کې ویلي چې د طالبانو امارات د هغه وخت له حکومتونو سره د محتوا او تګلارې له اړخه هېڅ توپیر نه لري. د ده په وینا: (( امارتي نظام د یوه فرد پر اراده متکي دی. دا له یوه کاملاً استبدادي او دیکتاتوري نظام سره هېڅ توپیر نه لري. طالباني نظام د سدوزیانو او محمدزیانو له سلطنت سره، چې له ۱۷۴۷ز کال تر ۱۹۷۸ز کال یې تر ۲۳۰ کلونو ډېر پر افغانستان حکومت وکړ، د روح او محتوا له اړخه توپیر نه لري. په هغه نظام کې هم له یوې قبیلې یوې وړې ډلې په موروثي توګه له استبداد په ډک چلند او دیکتاتورۍ پر افغانستان حکومت وکړ، پرته له دې چې د خلکو حقوقو ته درناوی وکړي، دوی ازادۍ ته درناوی وکړي او ان پرته له دې چې قانون ته درناوی وکړي. د امارت نظام یو غیر قانوني، مطلقه او نامحدود نظام دی)).

همدې مسئلې د خلکو توند غبرګونونه راپارولي دي. د ولسي جرګې غړې آرین یون وایي چې د سرور دانش خبرې د ده خپلې نه دي، بلکې د ایران د استخباراتو، د خامنه یي او د فاطمیون د رهبرانو خبرې دي چې غواړي په هېواد کې تفرقې او کرکې ته لمن ووهي. آرین وایي: ((هغه باید په ټېټو سترګو له دې ولس ښښنه وغواړي، دا خبرې یې خپلې نه دي، د استخباراتي کړیو دي، د فاطمیون دي، غواړي دلته تفرقې او قومپالنې ته لمن ووهي، د یوه ستر ملت تاریخ ته سپکاوی کوي، دا د زغم وړ خبره نه ده)).

د سیاسي چارو شنونکی آصف ننګ بیا وایي، د تاریخ تحریف او له افغان تاریخ غلطه اخیستنه او په اړه یې غیر مسوولانه څرګندونې کول خطرناک ګام دی. هغه وایي، د هغو واکمنانو په اړه غیر مسوولانه څرګندونې چې په څه باندې دوو سوو کلونو کې د افغانستان لپاره ډېر څه کړي دي او دا هېواد یې ساتلی هېچا ته د منلو نه دي. د ده په وینا: ((په دې کلونو کې پر قومونو ستم نه دی شوی، تر ټولو ډېر په دې کلونو کې اقلیتونه حکومتونو ته نږدې وو. هېڅ داسې سند نشته چې په دې دوره کې دې پر اقلیتونو ظلم شوی وي، نو دغه ډول څرګندونې د منلو نه دي)).

د پوهنتون استاد او د سیاسي چارو شنونکی نجیب ازاد بیا سرور دانش له علمي اړخه کمزوری ګڼي او په خبره یې، د دانش له خبرو د تعصب او تنګ نظرۍ بوی راځي. د ده په وینا، په تېرو دوو سوو کلونو کې واکمنانو داسې یو هېواد جوړ کړی دی چې نن پکې سرور دانش دویم مرستیال دی، نو ښه به وي چې په دې اړه په دې اړه خپل معلومات ډېر کړي. د ده په خبره: ((په داسې یوه وخت کې چې موږ د سولې هڅه کوو، د دانش دا خبرې په دې مانا دي چې هغه قصدا د سولې د پروسې په تخریب پسې دی)).

بلخوا سرور دانش بیا پرون په ارګ کې په خپلو تازه څرګندونو کې وویل چې هدف یې تاریخ ته سپکاوی نه و، بلکې د دوو نظامونو مقایسه وه.

# په منځني ختیځ کې له کړکېچونو سره همهاله؛

## د امریکا د نوي فضايي ځواک لومړنۍ ډله په قطر کې ځای پرځای شوې ده



په منځني ختیځ کې د کړکېچونو له ډېرېدو سره همهاله، د امریکا د نوي فضايي ځواک لومړنۍ ډله په قطر کې ځای پرځای شوې ده.

امریکايي چارواکي وایي چې د دغه ځواک فعالیت به تر ډېره پر فضا متمرکز وي او د سپوږمکیو په وسیله به خپلې چارې پر مخ وړي. امریکايي پوځي چارواکي وایي، دغه ځواک به د دښمن مانورونه څاري او فضا به ساتي چې د جګړو په ډګر بدله نه شي.

د امریکا د فضايي ځواک دغه شل کسیزه ډله د قطر په العدید هوايي اډه کې چې په سیمه کې د امریکا د پوځ لویه پوځي اډه بلل کېږي، ځای پرځای شوې ده. د راپورونو له مخې، دا د امریکا د وسله والو ځواکونو شپږمه څانګه ده چې له ۱۹۴۷ز کال وروسته د امریکا د پوځ په چوکاټ کې جوړېږي.

په ورته وخت کې د امریکا دغه نوي ځواک غبرګونونه هم را پارولي دي. د یاد هېواد کانګرېس پرې نیوک شوې، په نېټفلېکس شبکه کې د طنز په بڼه معرفي شوی او د سټارټریک په څېر د غیرمعمولي لوګو یا نښان په لرلو سره خلک پرې ملنډې وهي چې ګواکې د سیارو ترمنځ جګړه نښتې ده.

د اسوشیټېډ پرېس آژانس د راپور له مخې، راتلونکې جګړې ښايي په فضاکې وي، خو دا چې دغه ځواک د عربو په صحرا کې ځای پرځای شوی، د کارپوهانو له نظره علت یې دا دی چې په دې سیمه کې امریکا د ایران له لوري له نوي ګواښ سره مخ ده.

مخکې هم په دې سیمه کې امریکا په ۱۹۹۱ ز کال کې د عراق د هغه وخت واکمن صدام حسین د رژیم چې کویټ یې نیولی و، د نسکورولو لپاره د صحرا د یرغل په نوم عملیات کړي وو. د پوځي کارپوهانو په وینا، منځنی ختیځ اوس د ایران د میزایلو د پروګرام له نوي ګواښ سره مخامخ دی.

امریکايي چارواکي وایي چې دغه فضايي ځواک دنده لري چې په فضا کې د توغندیو او سپوږمیکو په ګډون د ایران هر ډول هڅې شنډې کړي. د امریکا پوځ هغه مهال د کویټ د ازادولو لپاره په دغه جګړه کې د لومړي ځل لپاره د عملیاتو د همغږي کولو لپاره له جي پي اېس سیسټم څخه کار واخیست چې ځواکونو ته یې په دښته کې د هغوی موقعیت ښوده. له هغې راهیسې په دې برخه کې په تېرو ۳۰ کلونو کې په نړیوال ډګر کې ډېر نور سیالان رامخکې شوي دي.

د قطر په العدید هوايي اډه کې د ځای پر ځای شویو فضايي ځواکونو د ډلې مشر ډګروال ټود بینسون اسوشیټېډ پرېس آژانس ته ویلي، په دې وروستیو کلونو کې لیدل کېږي چې یو شمېر هېوادونو جدي هڅې پیل کړې چې جګړه فضا ته وغځوي. هغه زیاته کړې: «موږ باید وکولای شو چې له دغو هېوادونو سره سیالي او له خپلو ملي ګټو دفاع او ساتنه وکړو.»

په ورته وخت کې د امریکا د کانګرېس یوشمېر غړې بیا نیوکه کوي چې د امریکا دغه فضايي ځواک چې تشکیل یې ۱٦ زره پرسونل ښودل شوی او په ۲۰۲۱ ز کال کې څه کم ۱۵ نیم میلیارد ډالره بودجه ورته ځانګړې شوې، د نومبر د میاشتې د ولسمشرۍ تر ټاکنو مخکې د ولسمشر ټرمپ د هڅو یوه باطله پروژه ده.


## د کتــاب خبــري

# افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري فرصتونه او ستونزې

© لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

### دریم فصل

### د سیمه‌ییزې همکارۍ لپاره شته فرصتونه




ایکو سازمان تر اوسه پورې د مالي امکاناتو د محدودیت له امله پر دې نه دی توانېدلی چې سترې اقتصادي پروژې تطبیق کړي ، خو سره له دې ایکو سازمان کلنۍ غونډې جوړوي او د سیمه‌ییزو ګمرکي قراردادونو له تنظیم سره مرسته کوي .د سارک په پرتله هم د ایکو رول او نقش کمزوری دی او تر ډېره حده پورې یې په سیمه کې د یو سیاسي فورم ــ شبکې په حیث رول لوبولی دی . له بل لوري د ایکو مرکزي دفتر په تهران کې دی نو له همدې امله ډېری غربي مرسته کوونکې اداري دغه دفتر ته لاسرسی نه لري .

**۴- د سوېلي اسیا د سیمه‌ییزو همکاریو سازمان «سارک»:**

د سویلي اسیا د همکاریو سازمان «سارک» یو مهم سیمه‌ییز سیاسي او اقتصادي سازمان دی چې افغانستان، هند، پاکستان، سریلانکا، بنګله دیش، بوتان، نیپال او مالدیو یې غړي هېوادونه دي او مرکز یې د نیپال په پلازمېنه کتمنډو کې دی . سارک سازمان په ۱۹۸۵ زکال کې رامنځ ته شو، افغانستان په ۲۰۰۵ کې په دغه سازمان کې د ناظر او په ۲۰۰۷ زکال کې د غړي په توګه ومنل شو.

د سارک سازمان د جوړېدو هدف د غړو هېوادونو ترمنځ په مختلفو برخو کې د اړیکو او همکاریو پراختیا ده افغانستان کولای شي د سارک غړي هېوادونه چې د انرژۍ له کمښت سره مخامخ دي د مرکزي اسیا له هېوادونو سره چې پراخې طبیعي زېرمې لري ونښلوي او د جنوبي او مرکزي اسیا ترمنځ د سوداګرۍ او ترانزیټ په یوې مهمې لارې بدل شي سارک سازمان د سیمه‌ییزو همکاریو د پراختیا لپاره ځینې بنسټونه او اداري لرې . افغانستان کولای شي له سارک سازمان سره د اړیکو او همکاریو د پراختیا په وسیله د یاد سازمان له امکاناتو او بنسټونوڅخه استفاده وکړي او د دغه سازمان له غړو سره اړیکو او همکاریو ته پراختیا ورکړي.سارک د ظرفیت لوړولو، تعلیمي او تحصیلي برخو، د ناروغیو د مخنیوي او چاپېریال ساتنې په برخو کې د همکاریو د پراختیا په موخه پروژې لري او د سارک پراختیایي بودیچه یې هم جوړه کړې ده. د نړۍ په ناخالصو تولیداتو کې د سارک هېوادونو ونډه ۲ سلنه، په صادراتو کې ۲ سلنه او په وارداتو کې ٦ سلنه ده. سارک سازمان غړي هېوادونه د زراعت او د لږې پرتو سیمو پراخوالي، روغتیا، د ښځو، ځوانانو او ماشومانوژوندښه کولو،د چاپېریال او ځنګلونو ساتنې،د ساینس او ټیکنالوژۍ، د بشري صنایعو د ودې، د ترانسپورت، له معیوبینو سره د مرستې، د ترهګرۍ پرضد مبارزې، کلتوري اړیکو د پراختیا او د مخدره توکو د قاچاق د مخنیوي په برخو کې له یوبل سره همکاري لري.

د جنوبي اسیا هېوادونو ترمنځ د ازادې سوداګرۍ تړون Safta د سارک د غړو هېوادونو له لوري د دغه سازمان په دولسمه غونډه کې لاسلیک شو او د دې تړون له مخې به د سارک د غړو هېوادونو ترمنځ د ازادې سوداګرۍ لپاره زمینه برابریده او ټاکل شوې وه چې تړون به د ۲۰۰٦ زکال له جنوري وروسته تطبیق شي، خو تر اوسه پورې نه دی تطبیق شوی او د نه تطبیق اصلي دلیل یې د پاکستان مخالفت دی . که څه هم سارک سازمان پر دې نه دی توانېدلی چې د غړو هېوادونو ستونزې حل کړي، د هند او پاکستان او د افغانستان او پاکستان ترمنځ ډېرې ستونزې او اختلافونه موجود دي، د هند او پاکستان ترمنځ اختلافونه د دې سبب شوي چې سارک سازمان خپل اهداف ترلاسه نه کړي خو له دې سره هم سارک سازمان د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا لپاره ځینې فرصتونه او امکانات رامنځته کړي او افغانستان کولای شي له یادو فرصتونو او امکاناتو څخه په استفادې د سارک سازمان له غړو هېوادونو سره په مختلفو برخو کې همکاریو او اړیکو ته پراختیا ورکړي .


**ج ـ د سیمه‌ییزې همکارۍ ساحې**

**۱ـ د برېښنا تولید**

افغانستان او تاجکستان د برېښنا د تولید لازم ظرفیتونه لري د امو سیند د برېښنا تولید لپاره ډېر مساعد دی، خو تراوسه پورې د برېښنا د تولید لپاره یو سیمه‌ییز سیستم نه دی رامنځ ته شوی . افغانستان، تاجکستان، چین او هندوستان کولای شي د برېښنا د تولید لپاره ګډه پانګونه وکړي او د برېښنا تولید کې سهم واخلي له امو سیند څخه د برېښنا تولید په موخه ګټه اخیستل د سیمې د هېوادونو ترمنځ پراخې همکارۍ ته زمینه برابرولای شي. د تاجکستان ترڅنګ ازبکستان هم د برېښنا یو ستر تولیدونکی هېواد دی، افغانستان د خپلې اړتیا وړ یوه اندازه برېښنا له ازبکستان څخه واردوي ازبکستان غواړي چې خپلې برېښنا ته سیمه‌ییز بازار پیدا کړي او د دغه هېواد برېښنا ته سیمه‌ییز بازار یوازې د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا له لارې رامنځته کېدای شي. **دوام لري...**

# رولان بارت

شفیق امیرزی



په دې کې شک نشته چې رولان بارت د شلمې پېړۍ له نوموتو ادبي نقادانو او لیکوالانو و. هغه د نښې پېژندنې په برخه کې مخکښ و. دی په اصل کې یو ادبي منتقد او فیلسوف و، په خپل ځیرک فکر او پیاوړي متن یې مهم اثار پنځولي دي، همدې لیکنو او پراخې مطالعې هغه د یوه تکړه فیلسوف تر څنګ نړۍ ته د یوه پیاوړي ټولنپوه په توګه هم ورپېژندلی دی. بارت په ځوانۍ کې په چپي او کمونیستي حرکتونو کې برخه اخیسته، خو ډېر ژر یې له دوی واټن ونیو او خپله لاره یې بدله کړه. د یو څه مودې لپاره یې د فرانسې د عالي اجتماعي مطالعاتو په برخه کې تدریس کاوه، په ۱۹۷٦م کال کې یې په کلژ دوفرانس کې د ادبي ماناپوهنې د تدریس مسوولیت پر غاړه واخیست.

رولان بارت په ۱۹۱۵ م کال کې د فرانس په شربورګ ښار کې زیږېدلی دی. هغه د پاریس په سوربن پوهنتون کې د فرانسوي ژبې کلاسیک ادبیات ولوستل. دفاشیزم پر ضد د هغه مهال په روانو فعالیتونو کې یې ونډه لرله، چې له همدې امله یې په مطلقو چپي ورځپاڼو او نشریاتو کې لیکنې کولې. بارت د دویمې نړیوالې جګړې په اوږدو کې د سل ناروغۍ له امله د سرتېرۍ له خدمت وبښل شو، تر جګړې وروسته د تدریس په موخه رومانیا ته لاړ، وروسته سکندریه پوهنتون ته راغی، چې همدلته یې د ګریماس تر نظر لاندې د ژبپوهنې لوست پیل کړ.

بارت په ۱۹۵۰ م کال کې پاریس ته را وګرځېد، د علمي تحقیقاتو په مرکز کې یې لومړی د فرهنګ لیکوال او وروسته د ټولنپوه په توګه دنده تر سره کړه. له ۱۹٦۰ م کال وروسته بیا تر مرګه پورې د تدریس په چارو بوخت و. په ۱۹۷٦ م کال کې یې په دو فرانس کالج کې د نښې پېژندونکي او سمبولیست پر څوکۍ دنده پیل کړه. هغه له ځینو نورو لیکوالانو سره په ګډه د تېل کول (Tel Quel) ادبي نشریې له خپروونکو او چلوونکو و. بارت د پورته فعالیتونو ترڅنګ ډېره عالي لیکوالي کوله. هغه په ۱۹۵۳ م کال کې د صفر درجې په نامه یو کتاب خپور کړ چې دی یې هغه مهال د مطرحو فیلسوفانو او لیکوالانو په کتار کې راوست. د دې تر څنګ یې د میشله، اسطوره پېژندنې، د راسین په اړه، د نقادۍ مقالې، د نښانو امپراتوري او نور اثار خپاره کړي دي. دی په دې اثارو کې تر ډېره پر ژبپوهنه او نښې پېژندنه باندې تمرکز کوي. ده بیا له همدې نښانو او یا هغو سمبولونو چې انسان یې په ورځني ژوند، لیکنو، اعلانونو او نورو مواردو کې کاروي، انساني شخصیت تحلیلوي او له دې مواردو په خپلو اثارو کې د انسان پېژندنې لپاره کار اخلي.

د بارت د روشنفکرۍ ژوند دوې برخې لري. لومړی دا چې هغه د خلکو له فرهنګ او هنر د جوړښتونو او سترکچرلېستي مکتب پر اساس تفسیرونه وړاندې کوي او د دوی کړه وړه تحلیلوي. په دې اثارو کې یې ټول تمرکز د انسان پر پېژندنه دی، له نښانو هڅه کوي څو انسان وپېژني او له سمبولونو تحلیلونه کوي. دی په دې برخه کې تر ډېره د سوسور له نظریاتو هم استفاده کوي، هغه به ویل چې د دال مانا د هغه د ضد ماناوو له مقابلېدو وروسته معلومېدلی شي. په دې مانا، ورځ ځکه پېژنو چې په مقابل کې یې شپه ده، سپین رنګ ځکه پېژنو چې په مقابل کې یې تور دی. دوی له تقابلونو د کلماتو او نښانو مانا را ایستله.

د بارت لومړني اثار د سترکچرلېزم له مکتب متاثر وو، نه یوازې متاثر؛ بلکې وروسته یې پر دغه مکتب هم اغېز درلود. دا هرڅه د دې سبب شول چې په دغه ادبي او فرهنګي مکتب کې ډېر څه ور زیات کړي او د پام وړ بدلونونه راولي. هغه د اسطوره پېژندنې په کتاب کې د نښو نښانو په تحلیل پسې دی، دا چې څه ډول دغه نښانې فرهنګونو ته راغلې دي، هدف یې څه دی، موخه یې څه ده او څه ډول تحلیلونه ترې کېدلی شي؛ دا ځوابونه د نوموړي په اثارو کې پیدا کولی شی. بارت د خپلې روشنفکرۍ د عمر په دویمه برخه کې د داسې مفکورو په روزلو او وده ورکولو لاس پورې کړ، چې هغه د متونو د تحلیل او متونو د لوستلو لپاره کارول کېدل.

بارت په خپل ژوند کې له ګڼو فکري دستګاوو سره تعامل درلود. د سارتر، برشت، لوی ستروس، مارکس، نیچه، دو سوسور، هوسرل، ژاک لاکان، د روسي فارملستانو، الماني رومانتسیزم او نورو اغېز د ده په اثارو کې لیدلی شو. که څه هم هغه په ځینو اثارو لکه «ارسطو پېژندنه» کې بېل فکر درلود، په «صفر درجه کتاب» کې یې تاریخي او طبقاتي تحلیل کارولی و او د «نقد او حقیقت» په اثر کې یې له جوړښت پالنې کار نه و اخیستی؛ ځکه هرمنوتیک ته نږدې شوی و.

بارت په خپل ژوند لیک کې د «رولان بارت د رولان بارت په قلم» چې د نوي رومان ډولونه یې ګڼل د خپل ژوند، ماشومتوب، ځوانۍ او نورو مواردو په اړه لیکنې کړې دي. هغه په ۱۹۱۵ م کال کې زیږېدلی دی او پلار یې د ۱۹۱۸ م کال په جګړه کې ووژل شو او ده له خپلې مور سره په بایون ښار کې ژوند کاوه. هغه به ډېر وخت زړه تنګی او خپه و. رولان بارت د داسې یوه ماشوم په توګه ژوند وکړ، چې د مور تر مړینې وروسته یې ټوله نړۍ ویجاړه شوې وه. خوښۍ یې بایللې وې. هغه لیکلي چې نور یې له ژوند سره کومه مینه لرله. ژوند یې ماشومانه و او ان مرګ یې هم د یوه ماشوم په څېر پېښ شو. له سړکه د تېرېدو پر مهال موټر وواهه او په شپږمه کې د یوه ستر شخصیت د ژوند وروستۍ شېبې راورسېدې.

بارت د دې پدیدو په تحلیل او په فرهنګي څرګندونو کې د (سوسور) د ژبپوهنې د رغښتوالې او د لوی ستروس د انسان پېژندنې له نظریاتو اغېزمن دی. هغه په دې توګه هڅه کوي چې د کلتوري پدیدو نورو او پټو اړخونو ته ورسېږي. هغه د مانا په لټه کې نه و؛ بلکې غوښتل یې مانایي قاعدې پیدا کړي. یانې هغه امکانات چې ژبې ورته برابرول. لکه څنګه چې ژبپوهنه د جملې په مانا کار نه لري او غواړي شکلي جوړښت یې وپېژني. همدا جوړښت چې یوې جملې ته یې د جملې ارزښت ورکړی دی. بارت وروسته د اسطورې پېژندنې په نوم په یوه مهمه تیوریکي مقاله کې د اسطورو د تیوریکي اساساتو او میتودونو په اړه تدوین کړل، چې وکولی شي د ټولو مطالبو لنډېز لکه د نقد، ادبي نظریې، نښه پېژندنې او نورو ادبي مسایلو په اړه وړاندې کړي. د دې حقیقت سربېره چې نښې په لوېدیځ فلسفي دود کې عالي ځیرنیز موقعیت لري، خو عصري سیمیټیک تثبیت د فردیناند ډی ساسور د مطالعاتو او افکارو پر اساس راپورته شو.

د کلماتو او نښانو د مانا په اړه رولان بارت په زړه پورې څرګندونې لري. هغه وایي، د نښانو تر شا پرته مانا په ټولنه کې د فرهنګي قراردادونو محصول دی. دی وایي، له همدې امله له نښانو د خپلې خوښې مانا اخیستی شو او همدا راز پخپله ژبه هم د کلماتو د مانا په تغیر او تعین کې رول لرلی شي. په یوه ژبه کې یوه نښانه یا کلمه یوه مانا لرلی شي، خو همدا کلمه په همدې وینګ په بله ژبه کې بله مانا لېږدولی شي. نو له همدې امله دی د سوسور په څېر ټینګار کوي چې کلمات فرهنګو ته په کتو بېلې مانا وې لرلی شي. سوسور به هم ویل چې د کلماتو مانا په ډکشنرۍ کې مه ګورئ، بلکې په جملاتو کې یې وګورئ او په دې ځان پوه کړئ چې څوک کومه کلمه په کوم وخت کې د کوم هدف لپاره کاروي. د بېلګې په توګه، موږ په پښتو کې د یوې پدېدې لپاره د مرګ، مړینې، مردار، شهید، وژل شوي او مړه شوي کلمات د یوې پېښې لپاره کاروو؛ خو مانا او د کلمې تعین زموږ په فرهنګ او فکر پورې اړه لري. دا اوس موږ ټاکو چې چا ته مړ او چا ته مردار ووایو. له همدې امله بارت او سوسور وایي چې د کلماتو مانا په فرهنګو او جملاتو کې ده، نه په قاموسونو کې.

نښه پوهنه په یوه تعبیر د هر هغه څه په اړه مطالعې ته ویل کېږي، چې د نښانې په توګه منل شوي وي. نښه بیا هر هغه څه ته ویلی شو، چې هغه د یوه بل شي لپاره مانادار ځایناستی وي. په دې مانا چې موږ یو شی نه راسره ګرځوو، خلکو ته یې نه ښیو چې دا شی راسره دي، بلکې یوه نښانه یا همغه کلمه راسره وي.

د بارت د نښه پوهنې تر ټولو ستر هدف دا و، چې د مانا لرونکو نښانو د تولید نظام وڅېړي. ده به ویل، حقیقتونه تل په ټولنو کې په ځانګړو فرهنګي او چاپېریالي چوکاټونو کې بدلېږي رابدلېږي. بارت به ویل چې د نړۍ د علایمو په نظام کې په ټولیزه توګه یو ستر شی موجود دی. دی وایي چې نښه پوهنه کولی شي په ډېره ښه توګه په ټولنه کې روان فرهنګي تحولات تجزیه کړي. دی هغه نښې چې یادونه یې کوي، له فرهنګي او تاریخي لحاظه بشپړې بولي. په دې مانا چې د وخت په تېرېدو او د فرهنګونو په غنې کېدو سره دا نښانې بشپړې شوې دي او ځانګړي مفاهیم لېږدوي. له همدې امله رولان بارت وایي، نښې نښانې او کلمات نه یوازې دا چې فرهنګ او مفکورې ښیي، بلکې په ټولنو کې د علومو حقیقت هم پر همدې بنسټ ارزول کېدلی شي. د نښه پوهنې علم وایي چې مادي واقعیتونه دایمي او پر خپل ځای نه دي او په دې مانا نه ده چې ارو مرو یې باید پر انسانانو تحمیل کړو. د ده په باور، واقعیتونه تل د یوه ځانګړي نظام په وسیله جوړېږي او انسانانو ته د درک وړ کېږي. هغه وایي، مانا تل ځانګړی هدف تعقیبوي او همدا نښانې دي چې د مسایلو اړخونه روښانه کوي.

بارت دا هم وایي چې په نړۍ کې رمزونه، علایم او نښانې ثابتې نه دي. یاد شیان، ټولنیزو، اخلاقي، تاریخي او فرهنګي چاپېریالونو ته په پام بدلېږي رابدلېږي. هغه وایي چې نښانې د ماناوو په رامنځ ته کېدو او یا د هغه بهیر له تکمیلېدو سره مرسته کوي، چې د ماناګانو د بشپړېدو او پراختیا سبب ګرځي. په دې مانا چې نښانې په خپله له ځان سره مانا او ذهني تصویر لېږدوي، خو برعکس پخپله هم د مانا د ایجاد سبب ګرځي. رولان بارت سره له دې چې یو پیاوړی لیکوال و، ښه نقاد هم و. هغه د فرانسې د هغه مهال پر روان ادبي بهیر باندې نقدونه کړي دي. ده به ویل چې په فرانسه کې کلاسیکه لیکوالي د اسطورو د لیکلو یو نمونه ده. د ده د لیک لوست زمانه په فرانسه کې لا هم کلاسیکه وه، خو بارت نقد کاوه او په دې بهیر کې د نوښتونو، پراختیا او بدلون پلوی و. د رولان بارت نظریات خورا پراخ دي.

بالاخره د ادبي نظریاتو او لیکنو دغه مخکښ فرانسوي لیکوال تر کلونو، لیکنو، نقد او تدریس وروسته په ۱۹۸۰ م کال کې په یوه ترافیکي پېښه کې ومړ. په فرانسه او نړۍ کې یې لا هم ادبي او هنري فعالیتونو ته د قدر په سترګه کتل کېږي.

اقتصاد

## د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶،۸۰ |
| € | ۹۰ |
| Rp. | ٤٦۳ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۰،٦۰ |
| £ | ۹۸،۵۰ |

## بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# ځان ته داسې موخې وټاکئ چې ترلاسه کول یې شوني وي

ژباړه: حامد احمدزی

راځئ چې د نوي کال پیل او د اختر ورځو ته د رسېدو لپاره یوځای یو څو میاشتې پخوانیو وختونو ته لاړ شو؛ هغه ورځې چې موږ پکې د راتلونکي په اړه خوښ وو او هیله لرو چې د ځان او ژوند لپاره بېلابېلې موخې وټاکو. هغه موخې چې په یادو وختونو کې مو د ځان لپاره ټاکلې، له هغه ورځو سره پرتله کړئ، چې غواړی وروسته یې تر سره کړی. څومره خپلو دغو موخو ته ژمن پاتې کېږئ؟ ایا د خپلو موخو لپاره مو تر اوسه څه کړي؟ د یاد مودې په تېرېدو سره مو هغو موخو ته چې د ځان لپاره مو ټاکلې او پر کاغذ مو لیکلې، کله مو ورته کتلي؟ د دغو پوښتنو ځوابونه په لاندې لیکنه کې لوستلی شئ.

په دې لیکنه کې موږ په ژوند کې مهمو موخو ته د رسېدو لپاره د علمي او عملي لارښوونو په اړه خبرې کړې، چې دا به له تاسو سره د موخو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي.

۱- د موخو ترلاسه کولو لپاره څه شی اړین دي؟

که په هغه پلان یا غوره شوې لاره عمل ونه کړو، چې موږ د نورو لارو په پرتله د خپلې موخې تر لاسه کولو لپاره ښه بللې ده، هېڅ گټه به مو نه وي کړې. ډېری وختونه موږ په ژوند کې د خپل ځان لپاره لوړې موخې ټاکو، خو ځینې وختونه بیا پر هغه پلان عمل نه کوو چې هغه ته د رسېدو لپاره مو جوړ کړی دی. ستونزه دا نه ده چې تاسو د خپلو موخو ترلاسه کولو وړتیا نه لرئ، ستونزه دا ده چې ستاسو موخه ان له اوله تر لاسه کېدونکې نه وه.

ډېری وختونه په کال کې یو ځل د ځان لپاره موخې ټاکو، یانې د نوي کال په لومړیو ورځو کې، خو د دغو موخو لپاره بیا هڅې نه کوو او بیا بیا یې له ځان سره نه تکرارو. که د لویو موخو په ټاکلو کې پاتې راځو او ځان نشو ورته رسولی، ښه ده چې همدا لویې موخې په کوچنیو هغو ووېشو؛ ځکه کوچنۍ موخې په لنډ وخت کې ترلاسه کېدای شي.

باوري یم چې اوس به پوهېدلي وی چې د موخو په ترلاسه کولو کې اصلي ستونزه عملي اقدام نه کول دي. د دې لپاره چې هغه څه ترلاسه کړو چې په ذهن کې یې لرو، اړینه ده چې کوچنۍ موخې وټاکو څو یې په لنډ وخت کې ترلاسه کړو.

۲- د کوچنیو موخو ټاکل

په ژوند کې د موخې ترلاسه کولو لپاره بله سپارښتنه لکه مخکې مو چې ورته اشاره وکړه، دا ده چې لویې موخې په کوچنیو هغو ووېشو، څو یې په تر لاسه کولو کې ستونزه ونه لرو او په لنډ وخت کې په اسانۍ سره ځان ورته ورسوو. د کوچنۍ موخې ټاکلو یوه ښېگڼه دا ده چې د لویې موخې ټاکلو او ورته د رسېدو لپاره موږ ته لاره پرانیزي، خو پوښتنه دا ده چې ولې موږ لویې موخې په کوچنیو




هغو وېشو؟ لامل یې له هغه څه سره تړاو لري چې موږ یې په ذهن کې لرو، کله چې له لویې موخې سره مخ شو، کله چې د ځان لپاره لویه موخه وټاکو، په غیر مستقیم ډول داسې احساسوو چې باید لوی خاښونه یې مات کړو. په حقیقت کې د لویې موخې ترلاسه کول، زموږ په ذهنونو کې ناشوني ښکاري، له همدې امله هڅه کوو چې ټول هغه خنډونه لرې کړو، چې په مخ کې مو پراته دي.

له بلې خوا که لویې موخې په کوچنیو هغو ووېشو او په حقیقت کې د دغو کوچنیو موخو د تر لاسه کولو لپاره هڅې وکړو او سر له نن څخه یې پیل کړو، ذهنیت مو بدلېږي او هېڅ شی راته ناشوني نه ښکاري. په یاد ولرئ، که د خپلې موخې ښکاره انځور په خپل ذهن کې رسم نه شو کړای، هېڅکله به ځان ورته ونه شو رسولی. د لویې موخې درلودل، په یوه تیاره خونه کې د قدم وهلو په څېر دي. کله چې تیارې خونې ته داخلېږو، هېڅ شی نه موندل کېږي، خو کله چې کوچنۍ موخه په ذهن کې ولرو، داسې دي لکه د څراغ لټول چې په روښانه کولو سره یې کولی شو په کوټه یا خونه کې هرڅه ووینو.

لویې موخې هماغه دي چې تاسو د کال په لومړیو ورځو کې ټاکلې، لکه په یوه کال کې د ۵۰ کتابونو لوستل او یا هم د دوو لکو افغانیو سپما کول. په کوچنیو موخو باندې د لویو موخو بدلول چې په کم وخت کې ځان ورته رسولی شو او لویې موخې چې ورته د رسېدو لپاره مو یو کال وخت ټاکلی، لومړی باید په کوچنیو میاشتنیو هغو ووېشو او وروسته یې همداسې په اونیزو او ورځنیو هغو ووېشو. د موخې تر لاسه کولو دغه کړنلاره د وخت د کړنلارې په نوم یادولی شو.

په یاد ساتئ چې د موخې ټاکلو دغه کړنلاره یوازې په موخه او مالي پروگرامونو پورې اړه نه لري. د ژوند ټول اړخونه لکه روغتیا، سپورت، معنوي او روحي حالت، فردي هڅې، زده کړې، ټولنیزې اړیکې او نور موارد پکې شامل دي.

۳- په اوس کې د موخو ټاکل

گري کلر او جي پاپاسان په خپلو کتابونو «دا یو څه» کې په اوس وخت کې موخې ټاکلو ته ښکلی تعریف کړی دی. دوی موخه ټاکل له روسۍ نانځکې سره تشبیه کړې. دا نانځکې لومړی کوچنۍ او بیا لویې جوړېږي. په اوسمهال کې د موخو لپاره د پلان جوړول د راتلونکې لپاره موخې ټاکې، دا کړنلاره هغه څه درته په گوته کوي چې غواړی په همدې وخت کې یې تر سره کړئ. دا څه کولی شو چې له روسۍ نانځکې سره تشبیه کړو، اوسمهال چې کومه موخه په ذهن کې لرئ، د راتلونکې اونۍ په موخه کې ځان ته خپل ځای نیسي.

## کورنیو چارو وزارت: په تېرو نږدې دوو اونیو کې د جگړو له کبله ۳۲۸ ملکیانو ته مرگ ژوبله اوښتې ده

په داسې حال کې چې په قطر کې د افغان دولت او طالبانو مرکچي پلاوي د مذاکراتو د پیل لپاره د تگلارې پر جوړېدو بوخت دي، له دې سره جوخت جگړې او نښتې هم ډېرې شوې دي.

ننگرهار، تخار، کاپیسا، بادغیس، پکتیا، پکتیکا، ارزگان، کندز، میدان وردک، کندهار، غزني، کابل او بامیان هغه ولایتونه دي چې له تېرې یوې اونۍ راهیسې ورځخه د مرگ‌ژوبلې خبرونه خپرېږي.

له دې ۱۳ ولایتونو څخه د خبریالانو د ورکړل شویو راپورونو پر بنسټ، له تېرې دوشنبې راهیسې د افغان امنیتي ځواکونو او ملکیانو په گډون ۸۸ کسان وژل شوي او ۸٦ نور ټپیان شوي دي.

د کورنیو چارو وزارت لهخوا ازادي راډیو ته د دوشنبې په ورځ «۱۳۹۹ کال د وږي ۳۱» د ورکړل شویو معلوماتو پر بنسټ بیا، په تېرو دوو اونیو کې د افغانستان په ۲۴ ولایتونو کې د طالبانو لهخوا ۹۸ ملکیان وژل شوي او ۲۳۰ نور ټپیان دي.

د یاد وزارت د معلوماتو پر بنسټ، ډېری دا مرگ‌ژوبله په ننگرهار او تخار ولایتونو کې اوښتې ده. حکومت د جگړې د شدت او مرگ‌ژوبلې پړه پر طالبانو اچوي، خو طالبان بیا دا ادعا نه مني.

د طالبانو ویاند ذبیح‌الله مجاهد ویلي: «د مرگ‌ژوبلې د ډېرېدو لامل دا دی چې حکومت په ډېرو سیمو کې نظامي تحرکات پیل کړي او غواړي د خپل نفوذ ساحه پراخه کړي.»

په هېواد کې د جگړې شدت داسې مهال ډېر شوی چې له دواړو خواوو د تاوتریخوالي د کمېدو او اوربند غوښتنې هم شوې دي. د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد وړمه شپه پر خپل ټویټر د تاتریخوالي پر دوام اندېښنه ښودلې او لیکي یې دي: «له تېرو څو ورځو راهیسې په افغانستان کې تاوتریخوالی په څرگند ډول زیات شوی چې د تأسف خبره ده او د گڼ شمېر ملکیانو په گډون افغانان پکې وژل کېږي.»

نوموړي تر دې وړاندې ویلي وو چې د سولې خبرو له پیل سره سم، اړینه ده چې ټول اړخونه په تاوتریخوالي کې د پام وړ کموالی راولي. په ورته وخت کې د افغانستان لپاره د ناټو ملکي استازي ستېفانو پونتېکورو هم د سولې نړیوالې ورځې په مناسبت په خپل پیغام کې ویلي چې په افغانستان کې د سولې لپاره تاریخي فرصت منځته راغلی او باید نور تاوتریخوالي ته د سیاسي جوړ جاړي له لارې حل‌لار پیدا شي.

## یوناما: ښکېلې خواوې دې ژر تر ژره اوربند او د دوحې خبرو لپاره مناسبه فضا رامنځته کړي

د ملگرو ملتونو سیاسي استازولۍ یا «یوناما»، اروپایي ټولنې، د کاناډا سفارت او د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د سولې نړیوالې ورځې په مناسبت په افغانستان کې د تاوتریخوالي کمولو او اوربند غوښتنه کړې ده.

یوناما ویلي چې یوازې د تېرې شنبې په ورځ په افغانستان کې د تاوتریخوالي په پېښو کې ۲۰ ملکیان وژل شوي او ۳۹ نور ټپیان شوي دي.

یوناما تېره ورځ پر خپل ټویټر لیکلي چې دغه مرگ ژوبله په څلورو بېلابېلو پېښو کې رامنځته شوې چې په وینا یې؛ په وژل شویو کسانو کې ښځې، هلکان او نجونې شاملې دي.

یوناما لیکلي: «په داسې حال کې چې موږ د سولې نړیوله ورځ لمانځو...موږ د ملکي تلفاتو د زیاتوالي په اړه اندېښمن یو، له اړوند لورو غواړو چې د دوی د ژغورلو لپاره ژر تر ژره اقدامات وکړي او د دوحې خبرو لپاره مناسبه فضا رامنځته کړي.»

دا په داسې حال کې ده چې تېره ورځ (دوشنبه د سپتمبر۲۱مه) د سولې نړیواله ورځ وه. د دې ورځې په مناسبت په افغانستان کې د اروپایي ټولنې استازولۍ هم د ملکي مرگ ژوبلې پر زیاتېدو اندېښنه ښودلې ده. دې ټولنې د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره پر وسله والو طالبانو غږ کړی چې تاوتریخوالی بند کړي او ژر تر ژره اوربند وکړي.

په افغانستان کې د کاناډا سفارت هم د یادې ورځې په مناسبت له ښکېلو اړخونو څخه غوښتي چې سولې ته فرصت ورکړي او بشردوستانه اوربند وکړي.

په ورته وخت کې د بشري حقونو خپلواک کمېسیون هم د بین الافغاني خبرو هر کلی کړی او په هیواد کې د سولې ټینگښت لپاره د اوربند غوښتنه کړې ده. بلخوا د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت هم په تیرو څو ورځو کې په دغه هېواد کې د تاوتریخوالي پر زیاتېدو اندېښنه ښودلې او د ښکېلو اړخونو څخه د تاوتریخوالي کمولو غوښتنه کړې ده.

دا په داسې حال کې ده چې تېره اونۍ په دوحه کې د افغان سولې په اړه بین الافغاني مذاکرات پیل شول. د امریکا متحده ایالتونو، ملگرو ملتونو، اروپایي ټولنې، د اسلامي هیوادونو همکاریو سازمان په گډون زیات شمېر هېوادونو د دغو مذاکراتو پیلېدو هرکلی کړی دی. تر دې مهاله د دواړو لورو مذاکراتي ټیمونو د تماس ډلو څو ځله په خپلو کې سره د سولې مذکراتو د کاري طرزالعمل په اړه بحثونه کړي، خو اجنډا لا هم نه ده وروستۍ شوې.

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د تلې لومړۍ | د ۲۰۲۰ د سپټمبر ۲۲مه | ۵۹۸مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳٤ | ۲۹ |
| ۱۲ | ۱۸ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۰ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۱۸ | لمر ختل ۰۵:۴۰ | ماسپښين ۱۱:۴۷ | مازيګر ۰۳:۱۵ | ماښام ۰۵:۵۲ | ماخوستن ۰۷:۱۶

## نړۍ



په منځني ختيځ کې له کړکېچونو سره هممهاله؛
**د امريکا د نوي فضايي ځواک لومړنی ډله په قطر کې ځای پرځای شوې ده**
۳

### تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا وبا له کبله د مړو شمېر ۹٦٦ زره او ۸۹ کسانو ته ورسېد



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ويروس مثبتې پېښې ۳۱ ميليونو او ۳۱۲ زره او ٦۲۲ ته رسېدلي دي. دغه راز د ياد ويروس له کبله تر دې دمه ۹٦٦ زره او ۸۹ کسان مړه شوي او نږدې ۲۳ ميليونه ترې ببرته رغېدلي دي.

د دغو شمېرو پر اساس، د امريکا متحده ايالتونه لاهم د کرونا ويروس د زياتو مثبتو پېښو او قربانيانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امريکا کې پر دغه ويروس له اوو ميليونو ډېر کسان اخته شوي او ۲۰۴ زره او ۱۲٦ امريکايان يې مړه کړي دي.

له امريکا وروسته هند د کرونا وبا د پنځه ميليونه او ۷۵۱ زره او ۵۹٦ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دويم، برازيل د څلور ميليونه او ۵۴۴ زره او ٦۲۹ مثبتو پېښو له کبله درېيم، روسيه د يو ميليون او ۱۰۹ زره او ۵۹۵ مثبتو پېښو په درلودو سره څلورم او پېرو د ۷٦۸ زره او ۸۹۵ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د ياد ويروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

دغه راز کولمبيا، مکسيکو، جنوبي افريقا او هسپانيا په ترتيب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا وبا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

### راپورونه: په هند کې د يوې ودانۍ د چپه کېدو په پېښه کې ۱۹ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې


هندي چارواکي وايي چې د دغه هېواد د مهاراشترا په ايالت کې د يوې ودانۍ د چپه کېدو له کبله اته کسان مړه شوي دي. دوی دغه راز وايي چې سيمې ته د ژغورنې ډلې رسېدلي او تر خاورو او ډبرو لاندې د ايسارو کسانو د ژغورلو پر چارو بوخت دي.

چارواکي زياتوي چې په دې پېښه کې لږ تر لږه ۱۱ نور کسان ژوبل شوي دي او لسګونه نور تر خاورې لاندې دي. د ياد ايالت د تانې ولسوالۍ د سيمې کمېشنر پنکاج اشيا وايي چې دا څلور پوړيزه ودانۍ څه باندې ۳۰ کاله مخکې جوړه شوې وه.

هغه زياتوي چې د دغې ودانۍ د نوي کولو او بيا رغونې کارونه پيل شوي وو، خو د کروناويروس له کبله وځنډېدل.

د يادونې ده چې په هند کې هرکال په سختو موسمي بارانونو کې د دا ډول زړو ودانيو تهدابونه خرابيږي او بيا نړېږي چې ګڼو کسانو ته پکې مرګ ژوبله هم اوړي. په ورته وخت کې سيمه ييز چارواکي وايي، چې د دغې نړېدلې ودانۍ بنسټونه هم موسمي بارانونو او سيلابونو کمزوري کړي وو. دوی وايي چې که څه هم د دې ودانۍ د نړېدو په اړه يې خلکو ته له مخکې هم خبر ورکړی و، خو په خبره يې، د دوی د نه پاملرنې له کبله دا پېښه رامنځته شوه.

### تدارکات ملي: در شش سال اخير بيش از ٦٦ ميليارد افغانی صرفه‌جويی کرده است



سخنگوی اداره تدارکات ملی افغانستان گفته که در شش سال اخير بيش از ٦٦ ميليارد افغانی صرفه‌جويی کرده است.

مبارزه با فساد از شرط‌های بنيادی ادامه کمک‌های جهانی به افغانستان است. حالا اداره تدارکات ملی می‌گويد با صرفه‌جويی ٦٦ ميلياردی بيانگر تأمين شفافيت در روند تدارکات دولتی است.

احمد رامين اياز سخنگوی اين اداره به راديو آزادی گفته است که اين مقدار پول نتيجه نظارت همه‌جانبه اين اداره برای تأمين شفافيت است.

او افزوده است: «نظارت همه‌جانبه اداره تدارکات ملی و کميسيون تدارکات ملی از پروسه‌های تدارکاتی سبب شده که در جريان نزديک به شش سال بيشتر از ٦٦ ميليارد افغانی از پول مردم صرفه‌جويی شود و از حيف و ميل آن جلوگيری صورت گيرد.»

بانک جهانی در گزارش تازه خود نوشته که اصلاحات در بخش تدارکات دولت افغانستان کمک کرده که بيش از ۸۰۰ ميليون دالر را در قراردادهای خريد ملی پس‌انداز کند.

بانک جهانی با وجود اين خوشبينی‌ها، اما در گزارش خود به چالش اساسی فراراه تدارکات در افغانستان هم اشاره کرده و گفته که تنها دانش و تخصص کارمندان تدارکات دولتی بسنده نيست، بلکه برای شفافيت و جلوگيری از فساد بايد به آنها آموزش‌های بيشتری داده شود. اما اداره تدارکات ملی افغانستان گفته که به کارمندانی که با روند تدارکات ارتباط دارند، آموزش داده و مکانيزم تدارکاتی را الکترونيک کرده است و امکان دسترسی به اطلاعات را در اين زمينه افزايش داده است.

## ژوند

### د برېښنا بېل څنګه را کم کړو؟



کله چې له کوره بهر وی، د کوټې ګروپونه، بايلر او نور غير ضروري شيان له برېښنا وباسئ. هېڅ داسې دليل نشته چې په کور کې ستاسو د نشتون په صورت کې بايد دغه شيان روښانه وي او بې ځايه برېښنا مصرف کړي. له سختې اړتيا پرته پکه مه روښانه کوئ. که تاسو په راتلونکې کې د خپل کور خوبونه وينئ، نو د رښتيا کولو لپاره يې بايد چې يو څه قرباني ورکړئ. سپما کول په دې مانا نه دي چې تاسو بايد سخت او لاس تنګی ژوند تېر کړئ، سپما يانې د بې ځايه او بې مورده لګښتونو مخنيوی، څو په راتلونکې کې د بل له احتياجه خلاص او خپل ژوند مخ ته يوسئ او د هرې ناڅاپي پېښې پر وړاندې په ډاډه زړه ودرېږئ. ايا دا جمله مو کله اورېدلې چې ميليارد له ميليون، ميليون له زرو، زر له سلو، سل له لسو او لس له يوه نه جوړ شوي؟؟ له څاڅکو درياب جوړېږي چې داسې ده، نو خپلې يوې افغانۍ ته هم ارزښت ورکړئ، سمې او پر خپل ځای يې مصرف کړئ.

### اېل جي خپل دوه مخپاڼې لرونکی موبايل معرفي کړ



اېل جي کمپنۍ خپل تر ټولو ځانګړې ډېزاين لرونکی ځيرک موبايل، اېل جي وېنګ معرفي کړی دی. د اېل جي دغه ځيرک موبايل له ۵جي ټکنالوژۍ څخه ملاتړ کوي. اېل جي وېنګ کې دوه مخپاڼې ورکړل شوي او کله چې پاسنۍ مخپاڼه ۹۰ درجې تاو شي، نو لاندې يې يوه بله کوچنۍ مخپاڼه راڅرګندېږي او د «T» بڼه غوره کوي. دغه ځيرک موبايل پاسنۍ برخه کې ٦,۸ انچه اېف اېچ ډي پلس اولېډ ډوله مخپاڼه لري او کله چې ۹۰ درجې تاو شي، نو لاندينۍ برخه کې ۳,۹ انچه کوچنۍ او لېډ ډوله مخپاڼه راڅرګندېږي. دغه ځيرک موبايل به د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن ۷٦۵جي پروسېسر، ۸ ګېګابايټ رم او ۲۵٦ ګېګابايټ د فايل ثبتونې وړتيا سره خرڅلاو ته وړاندې شي. کاروونکي د ميموري کارت له لارې د فايل ثبتونې وړتيا ۲ ټېرابايټ پورې زياتولی شي. اېل جي وېنګ نومي دغه ځيرک موبايل کې ۴۰۰۰ ملي امپيره وړتيا لرونکې بېټرۍ ورکړل شوې او له وايرلېس چارج څخه هم ملاتړ کوي. تر اوسه پورې اېل جي کمپنۍ د دغه ځيرک موبايل د بيې په اړه څه نه دي ويلي، خو راتلونکې مياشت به سويلي کوريا کې خرڅلاو ته وړاندې شي.

د (ATM) يا صرافۍ خپلکاره ماشينونو کارت لرونکو ته د پيسو اخېستلو اسانتيا

د افغانستان د تادياتو سيستم (Afghanistan Payment System) د فعاليت له پراختيا سره، د ټولو دولتي او خصوصي بانکونو پېرودونکي چې له دغه سيستم سره تړلي وي، کولی شي په مرکز او ولايتونو کې د عزيزي بانک د ټولو خپلکاره صرافي ماشينونو(ATM) څخه په 24 ساعته توګه پيسې ترلاسه کړي.
همدارنګه د عزيزي بانک محترم پېرودونکي کولی شي د خپلو ATM کارتونو څخه په ګڼې له ټولو هغو دولتي او خصوصي بانکونو پيسې ترلاسه کړي چې له دغه سيستم سره نښلول شوي دي.
عزيزي بانک له نوې ټکنالوژۍ سره جوخت خپلو پېرودونکو ته د غوره چوپړتياوو وړاندې کولو ته ژمن دی.




عزيزي بانک
Azizi Bank
www.azizibank.af
1515